# د جذباتي انداز اختيارولو نقصانونه

16-December-2021



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

# د جذباتي انداز اختيارولو نقصانونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! د نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف معنٰى ده ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو . اِنْ شَآءَاللّٰهُ الكريم د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښناك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتكاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاك د آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا ته چې څه حاجت پيښ شي هغه دِ په ما باندې کثرت سره دُرُود شريف لولي ځکه چې دُرُودِ پاك تکليفونه، درد او مُصيبتونه لرې کوي او په رزق کښې اضافه کوي.[1]

[1] ...بُسْتَانُ الواعِظين، صفحه: 241۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❁ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❁ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❁ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

# د غزوۀ بدر نه حاصل شوے يو سبق

الله پاك په خپل كلامِ پاك قرآنِ مجيد كښې ارشاد فرمائي:

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ (پاره:10، سورۀ انفال:47)

مفهوم ترجمه كنز الايمان: او د هغه خلقو په شان مه كيږئ كوم چې د كورونو نه اووتل په لوئي سره او خلقو ته د ښودني د پاره.

---

[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

په دې آيتِ کريمه کښې د غزوهٔ بدر نه حاصليدونکے يو اهم سبق بيان شوے دے. غزوهٔ بدر په اسلامي تاريخ کښې اهم ترينه واقعه ده، په تاريخِ اسلام کښې دا وړومبئ موقع وه کله چې حق او باطل يو بل ته مخامخ شو، په غزوهٔ بدر کښې الله پاك مسلمانانو ته عظِيمُ الشَّانه فتح ورکړه او کافرانو ته بدترين شکست اوشو.

## د کافرو د افعال و کردار نه عبرت واخلئ...!

د غزوهٔ بدر په موقع باندې کافرو يوه عبرتناکه غلطي کړې وه، څنګه چې اوس مونږه په لسمه سيپاره، سورهٔ انفال آيت نمبر **47** کښې واوريدل، په دې آيتِ کريمه کښې د مکے د کافرانو د هغه غلطئ بيان دے او **مَاشَآءَاللهُ**! د قرآنِ کريم د حکمت او نصيحت نه ډك، ښکلے خوږ انداز اوګورئ! غلطي کافرو کړې وه، الله پاك د هغه غلطئ ذِکر کوي او مسلمانانو ته حکم کوي چې د کافرو د هغه غلطئ نه عبرت واخلئ! او تاسو هيڅ کله داسې غلطي مه کوئ. مشهور مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دې آيتِ کريمه لاندې ليکي: د دې آيت نه معلومه شوه: مُومِن له پکار دي چې د کافرانو په بد کردار غور اوکړي، په دې نِيَّت نه چې د هغوئي تهذيب او طور و طريقے اختيار کړي بلکه د هغوئي د بد کردار نه عبرت حاصلولو د پاره، د هغې نه د بچ کيدو او لرې تښتيدو د پاره.[1]

اپني مِلّت پر قِياس اَقوامِ مغرب سے نہ کر | خاص ہے ترکيب ميں قومِ رسولِ ہاشمی

[1]...تفسیرنعیمی، پارہ:10، سورۂ انفال، زیرِ آیت:47، جلد:10، صفحہ:32۔

وضاحت: يعني مونږ مسلمانان يو، مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان يو، زمونږه طور طريقے، زمونږ د ژوند تيرولو انداز جُدا دے، مونږه په هر حال كښې د قرآنِ كريم او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو پابند يو، لِهٰذا خپل ځان په كافر قومونو باندې مه قياس كوئ....!

الله پاك دِ مونږ ټولو ته د عبرت نظر راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مكے د كافرانو عبرتناكې غلطئ وضاحت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا غلطي په اصل كښې يوه جذباتي فيصله وه كومه چې د مكے كافرانو د غزوۀ بدر په موقع كړي وه. مُفَسِّرِينِ كرام فرمائي: د مكے د كافِرانو يوه تجارتي قافِله د مُلكِ شام نه مكے مكرمے ته را روانه وه، په اصل كښې دوئي د خپلې تجارتي قافلے د حفاظت د پاره روان شوي وو خو مُعامَله دا اوشوه چې د هغوئي تجارتي قافله كومه چې د مُلكِ شام نه راروانه وه، هغه په عامه لاره رانغله بلكه د سمندر د غاړې په لاره په حفاظت مكے مكرمے ته اورسيدله. دلته د كافرانو كوم لښكر چې د قافلے د حفاظت د پاره وتلے وو، دوئي چې كله د جُحْفَه مقام ته اورسيدل نو د تجارتي قافلے له طرفه يو قاصد هغوئي له راغلو او اوئې وئيل چې ستاسو تجارتي قافله په حفاظت مكے مكرمے ته اورسيدله، تاسو بيرته راځئ...! په دې موقع باندې ابوجهل په تكبُّر اووئيل: نه... مونږ به اوس بيرته نه ځو، مونږه بهادُر خلق يو، مونږ به يو ځل ضرور د بدر ميدان ته ځو، نن صبا هلته ميله لګيدلې ده، د ټول عرب خلق هلته راجمع شوي دي، مونږ به هلته خپله بهادري ښايُو، د مسلمانانو نوم به د دُنيا نه ختم كړو (معاذَ الله!)، بيا چې دا هر څه اوكړو نو د هغې نه پس به هلته شراب څښو، ډمې راسره دي، دوئي به هلته ګډوو او جشن

په مناوهو.[1]

اَسْتَغْفِرُ اللّٰه! اَسْتَغْفِرُ اللّٰه! دا د ابوجهل يوه **جذباتي فيصله** وه، د هُم دې فيصلے په وجه هغه کافران د بدر میدان ته اورسیدل او عبرتناك شکست ئې اوخوړو. د دې غلطې او جذباتي فيصلے ذِکر **الله** پاک اوکړو او مونږ ته ئې حکم اوکړو:

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِیْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ بَطَرًا وَّ رِئَآءَ النَّاسِ (پاره:10، سورۂ انفال:47)

مفهوم ترجمه کنزالایمان: او د هغه خلقو په شان مه کیږئ کوم چې د کورونو نه اووتل په لوئې سره او خلقو ته د ښودنې د پاره.

يعنې اے **مسلمانانو!** تاسو د مکے د کافِرانو په شان په تَکَبُّر او خلقو ته ځان ښودلو والا مه جوړیږئ...!! بلکه پرهيزګاري اختيار کړئ! اِخلاص اختيار کړئ! صرف او صرف د الله پاك د رضا طلب ګار اوسئ!

## په آيتِ کريمه کښې د موجود لفظ بَطَرًا وضاحت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا لفظ بَطَرًا ډير قابِلِ غور دے. اِمام راغب اصفهاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې لفظ معنٰی بیانوي، فرمائي: اَلْبَطَرُ دَهَشٌ بطر د مدهوشي د يو کيفيت نوم دے. څنګه مدهوشي؟ يَعْتَرِى الْاِنْسَانَ مِنْ سُوْءِ اِحْتِمَالِ النِّعْمَةِ يعنې هغه مدهوشي کومه چې د نِعمَت په باره کښې په زړه کښې د بد ګمان ځخولو په وجه راځي.[2]

---

[1]...تفسیر بیضاوی مع حاشِیَه شیخ زاده، پاره:10، سورۂ اَنفال، زیرِ آیت:47، جلد:4، صفحه:400 ماخوذًا۔

[2]...مفردات الفاظ القرآن، کتاب: الباء، صفحه:61۔

د مثال په طور ❁ يو كس مالدار دے او هغه دا اوګنړي چې زه د مال و دولت په ذريعه هر څه حاصلوے شم ❁ چا ته چې د طاقت نِعمَت حاصل وي، هغه دا اوګنړي چې زه طاقتور يم، په چا کښې هِمَّت شته چې ما ته نقصان را اورسوي؟ يو ذهين طالبِ علم دے، هغه دا ګمان اوکړي چې زه ذهين يم، ما ته سبق يادولو د پاره د **محنت** ضرورت نشته،

دغه شان چې کله انسان د نِعمَت مُتَعَلِّق بد ګمان جوړ کړي نو دا ګمان د هغه په شُعور پرده واچوي، هغه وخت په هغه باندې د نشے په شان د مدهوشۍ کيفيت راشي، د هغه لاس، ښپے او د بدن ټول اندامونه کار کوي خو د هغه د سوچ او پوهې صلاحيت اُوده شي، هغه په خپل سوچ کښې دا ګنړي چې زه ډيره عقلمندۍ سره فيصله کووم خو هغه وخت د هغه په شُعُور او د هغه د سوچ او پوهې په صلاحيت باندې جذبات غالِب شي، او د نِعمَت مُتَعَلِّق د هغه په دې صلاحيتونو باندې د هغه بد ګمان قبضه اوکړي. دا د هغه مدهوشۍ کيفيت دے چې په عربۍ کښې ورته **بَطَر** وائي او هم دا هغه کيفيت دے چې د جديد علمِ نَفسيات په رنړا کښې ورته **جذباتي کيدل** وائي.

کُفَّارِ مکه چې د غزوۀ بدر په موقع باندې د بدر ميدان ته د تللو کومه فيصله اوکړه، هغه په هُم دې کيفيت کښې وه، [يعني] هغوئي سره طاقت وو، خلق ورسره زيات وو، په جنګ کښې ماهر وو، مال و دولت ورسره ډير وو، هغوئي د دې ښکاره اسبابو مُتَعَلِّق بد ګمان کښې اخته شو، هغوئي دا ګنړله چې مونږه بهادُر يو او زمونږ سره طاقت هُم دے نو څوك به مونږ ته شکست راکړي، دا هغه بد ګمان وو کوم چې د

كُفَّارِ مكه د سوچ او پوهې په طاقت باندې غالب راغلے وو، بيا هغوئي ته د بدر په ميدان كښې زبردست او تاريخي شكست اوشو، د كُفَّارِ مكه د هُم دې غلطې فيصلے الله پاك په قرآنِ پاك كښې ذِكر كړے دے او مونږ ته ئې د هغې نه د عبرت حاصلولو حكم كړے دے:

وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ (پاره:10، سورۂ انفال:47)

مفهوم ترجمه كنز الايمان: او د هغه خلقو په شان مه كيږئ كوم چې د كورونو نه اووتل په لوئي سره او خلقو ته د ښودنې د پاره.

اے عاشِقانِ رسول! د دې آيتِ كريمه نه مونږ ته دا سبق حاصل شو چې په ظاهري اسبابو نظر ساتل او د الله پاك د عطا كړو نِعمتونو مُتَعَلِّق بد گمان قائمول د كافرانو انداز دے، مونږ له پكار دي چې مونږه د خپل ژوند ټولې فيصلے د اِخلاص او تقوٰى په بُنياد او د شريعت د احكامو په رڼرا كښې په سوچ او فِكر سره كوو ځكه چې په جذباتو كښې شوې فيصلے عام طور د نقصان سبب جوړيږي. الله پاك دِ مونږ ته د عمل كولو توفيق راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## زمونږ په ژوند كښې د فيصلو اَهَمِّيَّت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! فيصلے كول زمونږ د ژوند ډيره اهمه حصَّه ده. فيصله صرف دا نه وي چې فيكټرئ جوړول دي كه نه دي جوړول، كاروبار شروع كول دي كه نه، د بچو واده كول دي كه نه. دا هم فيصلے دي خو صرف دا فيصلے نه دي، د يو تحقيق مطابق انسان په ورځ كښې 35 زره ورے لوئے فيصلے كوي. كه

مونږه غور اوکړو نو زمونږ پوره ژوند زمونږ د فيصلو نه ترتيب شوے دے. مَثَلًا که تږي شوي يو، اوبه اوس څښل دي که لږ ساعت پس، ☸ دغسې سحر زمونږه سترګې اوغړيدلې، د بسترے نه اوس پاڅيدل دي که دوه منټه پس، يا بيا اوده کيدل دي، دا هم فيصله ده ☸ ناشته اوس کول دي که وروسته، دا هم فيصله ده ☸ مونږه ناست يو، اودريدل دي که نه، دا هم فيصله ده. داسې مونږه په ټوله ورځ کښې د يوے فيصلے نه پس بله فيصله کوو او زمونږ ژوند زمونږ د دې فيصلو نه ترتيب کيږي.

زمونږ د ژوند ډيرې فيصلے داسې دي کومې چې زمونږه د شخصيت د پيژندګلو سبب جوړيږي، که مونږه په خپله باره کښې د خپل ځان نه دا تپوس اوکړو چې زه څوك يم؟ د دې سوال جواب به هم زمونږ د فيصلو په بنياد ورکولے کيږي. مثلاً په جمات کښې اذان اوشو، اوس مونږ له فيصله کول دي چې لمَانځه له تلل دي که نه، که مونږه د لمَانځه ادا کولو فيصله اوکړو نو مونږ به لمُونځ ګزاره قرار شو. که مونږه لمُونځ قضا کړو نو ګنهګار به قرار شو. دغه شان که چا مونږه يوه خبيره اووهلو، اوس مونږ له فيصله کول دي چې په بدل کښې دوه خپيړې وهل دي که مُعاف کول دي. که مونږ ترينه بدله واخلو او هغه دوه خپيړے اووهو نو مونږ به غُصَّه ناك، بے صبره، او په بعضو صورتونو کښې ظَالِم قرار شو او که مُعاف ئې کړو نو صبر کوونکي، مُعافي کوونکي به قرار شو. معلومه شوه چې زمونږه فيصلے زمونږ شخصيت د پيژندګلو سبب هُم جوړيږي.

## د فيصلے کولو درې اَهَم بنيادونه

اوس دلته يو سُوال پيدا کيږي چې فيصله په کوم بنياد کول پکار دي؟ په ژوند کښې د فيصله کولو 3 اَهَم بنيادونه وي: **(1)** جذبات **(2)** عقل **(3)** شُعُور

عام طورصرف غُصّے ته جذباتي انداز وئيلے کيږي حالانکه داسې نه ده، د جذباتو ډير قسمونه دي ☸ غُصَّه هم يوه جذبه ده ☸ محبت هم يوه جذبه ده ☸خوشحالي هم يوه جذبه ده ☸ غم☸ بيزاري☸ مايوسي ☸ ويره ☸ فخر وغيره دا ټول جذبات دي.

هميشه ياد ساتئ! جذبه که د غصّے والا وي، که د مَحبَّت والا وي، که د غم يا خوشحالئ والا وي، که هر قسم جذبات وي، خو هيڅ کله هُم د جذباتو په بنياد فيصلے نه کيږي ځکه چې د جذباتو په بنياد شوې فيصلے عام طور غلطي ثابتيږي. دغه شان د عقل په بنياد هم فيصلے نه شي کيدے. بلکه فيصلے هميشه د شُعُور په بنياد کول پکار دي.

## د عقل او شُعُور وضاحت

اوس په دې ځان پوهه کول دي چې شُعُور څه ته وائي: په اصل کښې د عقل دوه قِسمونه دي: **يو عقل هغه دے** کوم چې قدرتي طور په مونږ کښې اينبودے شوے دے. **دويم عقل هغه دے** کوم چې په علم زده کولو د عِلم د رنړا په ذريعه حاصليږي. دويم عقل کوم چې د علم زده کولو نه پس نصيب کيږي، دې ته شُعُور وائي. د اسلام

څلورم خلیفه اَمِيْرُالْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دې ته د عقلِ مَسمُوع نوم ورکړے دے، فرمائي:

| رَاَيْتُ الْعَقْلَ عَقْلَيْنِ | فَمَطْبُوْعٌ وَّ مَسْمُوْعٌ[1] |
|---|---|

یعنې زما په نظر کښې د عقل دوه قسمونه دي: (1) عَقْلِ مَطْبُوْع یعنې فطري عقل کوم چې په انسان کښې ایښودے شوے دے، (2) عَقْلِ مَسْمُوْع یعنې هغه عقل کوم چې (د علم د خبرو) په اوریدو حاصلیږي.

فیصلے که وړې وي او که غټې، فیصله همیشه په عَقْلِ مَسْمُوْع یعنې د شُعُور په بنیاد کیږي. الله پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱۹﴾ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ (پاره:2، سورهٔ بقره:220،219) | مفهوم ترجمه کنزالعرفان: الله تاسو ته آیتونه بیانوي چې تاسو غور و فِکر اوکړئ د دُنیا او آخرت په کارونو کښې. |

په آیت کریمه کښې دوه خبرې بیان شوې دي: (1) آیات، د شریعت احکام ښکاره او واضحه بیان شوي دي، (2) تاسو د دُنیا او آخرت په مُعامَلاتو کښې غور اوکړئ!

د شریعت احکام د واضحه بیانولو څه مقصد دے؟ هم دا مقصد ئې دے چې تاسو د شریعت احکام زده کړئ! ښه پرې ځان پوهه کړئ! دا هغه درجه ده کومې ته چې حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عَقْلِ مَسْمُوْع فرمائي، کوم ته چې شُعُور (یعنې په علم سره حاصلیدونکې رڼړا) وائي، بیا دا آیتونه او د شریعت احکام ښکاره ولے بیان شوي

[1] ...اِحْيَاءُ العلوم مترجم، جلد:1، صفحه:291۔

دي؟ په دې کښې حکمت څه دے؟ عَلّامه بُقاعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت په تفسير کښې فرمائي: په دې کښې حکمت دا دے چې تاسو د غور و فِکر کولو (یعني د خپل عَقْلِ مَطْبُوْع، کوم چې تاسو ته قدرتي طور عطا کړے شوے دے، د هغې د استعمالولو) عادت جوړ کړئ![1]

معلومه شوه: پکار ده چې مونږه خپل عقل د شريعت مطابق جوړ کړو، بيا د شريعت په رڼړا کښې چې مونږ ته کوم عَقْلِ مَسْمُوْع (یعني شُعُور) نصيب شي، د هغې په بنياد فيصلے اوکړو. دا د فيصله کولو اصل بنياد دے....!

## د يو حديثِ پاك وضاحت

راځئ چې په يو حديثِ پاك باندې ځان پوهه کړو. د الله پاك آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اَلصَّبْرُ نِصْفُ الْاِيْمَانِ صبر نيم اِيمان دے.[2]

په دې حديثِ پاك کښې د صبر فضيلت بيان شوے دے، چې صبر نيم اِيمان دے. بيا په دې ځان پوهه کړئ چې صبر څه ته وائي؟ اِمام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اِحياءُ العُلوم کښې د صبر مُتَعَلِّق تحقيق بيان کړے دے، فرمائي: د بَاعِثِ دِيْنِی او بَاعِثِ هَوٰی په خپل مينځ کښې د مُقابَلے نوم صبر دے. بَاعِثِ دِيْنِی یعني نيکو طرف ته مائله کوونکے قُوَّت او د بَاعِثِ هَوٰی مطلب: خواهشاتو طرف ته مائله کوونکے قُوَّت.[3]

---

[1]...تفسير نظمُ الدُّرَر، پاره:2، سورۀ بقره، زيرِ آيت:219، جلد:1، صفحه:417۔

[2]...معجم کبير، جلد:4، صفحه:463، حديث:8466۔

[3]...احياء العلوم مترجم، جلد:4، صفحه:191 خلاصةً۔

د مثال په طور مونږ ته چا رد بد اووئیل، نو زمونږه جذبات به را اُوپاریږي، زړه به مو غواړي چې د دې کس خُله ماته کړو، په وهلو وهلو ئې مخ وران کړو، دا **باعِثِ هَوٰی** دے. د دې برخلاف زمونږه دِین مونږ ته څه وائي؟ رد بد وئیلو والا مُعاف کړئ او ثواب اوګټئ. دا **باعِثِ دِیني** دے. نو بیا مونږ له فیصله کول دي، که مونږه جذباتي شو نو جګړه به جوړه شي او که مونږه د دین په بنیاد فیصله اوکړو، خپل جذبات په قابو کښې اوساتُو او د دِین خبرې له ترجیح ورکړو او هغه رد بد وئیونکے مُعاف کړو نو دا صبر دے.

[دوئیم مثال دا چې] د چا والد صاحب وفات شي او هغه ډیر خفه شي او د غم نه بےحاله شي، د هغه زړه غواړي چې په چغو چغو اوژاړم، ګریوان اوشلووم، شور او زوَږ جوړ کړم خو دِین وائي: صبر اوکړه! اوښکې اوبَهیوه خو ګریوان مه شلوه، شور او زوَږ مه کوه، اوس فیصله کول دي، که هغه کس شور او زوَږ اوکړي، ګریوان اوشلوي، خپله سینه په څپیړو اووهي نو دا جذباتي فیصله ده، او که د دِین په حکم عمل اوکړي یعني غم برداشت کړي، په جذباتو قابو راوړي نو دا شُعُوري فیصله ده او دې ته صبر وائي کوم ته چې **نیم اِیمان** وئیلے شوے دے. معلومه شوه چې فیصله همیشه په شعور (یعني د علم دِین نه حاصل شوي عقل په رنړا) کښې کول پکار دي.

بیا پاتې شو جذبات... نو زمونږ خلق په جذباتو کښې فیصلے کوي خو په حقیقت کښې فیصله کولو کښې د جذباتو څه عمل دخل نشته.

# مونږ ته جذبات ولے راکړے شوي دي....؟

په اصل کښې زمونږ چې کوم جذبات دي، مثلاً خوشحالي، غم، غُصَّه، بيزاري، محبت او مينه وغيره هر څوقسمه جذبات چې دي، دا مونږ له د فيصله کولو د پاره نه دي راکړے شوي، دا جذبات مونږ له د تَعَلُّق ساتلو د پاره راکړے شوي دي، مونږه په دې دُنيا کښې چې څه کوو، د دې د پاره مونږ ته د دوو څيزونو ضرورت راځي: (**1**) د کار کولو فيصله (**2**) د هغه کار سره تَعَلُّق. مثلاً په جمات کښې اذان اوشو، اوس مونږ له لمُونځ ادا کول دي، نو اوَّل به مونږه په زړه کښې فيصله کوو چې **د لمَانځه وخت شوے دے، لمَانځه له لاړ شه!** د دې فيصلے کولو نه پس دويم کار په دې فيصله باندې عمل کول دي يعنې لمَانځه د پاره تلل دي، جمات ته رسيدل دي، د دې کار د پاره ضروري دي چې زمونږ د خپلې فيصلے سره مضبوط تَعَلُّق وي، فرض کړئ که زمونږه د خپلې فيصلے سره مضبوط تَعَلُّق نه وي نو کيدے شي چې مونږ لمَانځه له روان يُو او په لاره کښې راته يو بد دوست ميلاؤ شي او مونږه د هغه په خبرو کښې لمُونځ قضا کړو يا شيطان زمونږ په زړه کښې وسوسه واچوي او مونږه خپله فيصله بدله کړو. لِهٰذا د فيصلے کولو نه پس، هغه کار باندې د عمل کولو د پاره د هغه کار سره مضبوط تَعَلُّق ساتل هم ضروري دي.

دا دويم څيز يعنې د خپلو فيصلو، کارونو، دِين، قُرآن، سُنَّت، خپلوانو، مور و پلار، اولاد وغيره سره مضبوط تَعَلُّق ساتل، د دې د پاره الله پاك مونږ له جذبات راکړي دي. **اوګورئ!** الله پاك مونږ له غوږونه د اوريدلو د پاره راکړي دي، مونږه د غوږونو په ذريعه بوئ کول نه شو کولے، د بوئيولو د پاره پوزه ده، په دې ليدل نه شو کولے، سترګې

د ليدلو د پاره دي، په دې خوراك نه شو كولے، نو هُم دغه شان د فيصله كولو د پاره مونږ ته شُعُور راكړے شوے دے، مونږ د جذباتو په بنياد فيصله نه شو كولے، مونږه چې كومه فيصله په خپل شُعُور سره اوكړو، هغې ته شُعُوري فيصله وائي، كه مونږه د جذباتو په بنياد فيصله اوكړو، شُعُور پريږدو نو هغې ته به جذباتي فيصله وائي د كومې چې عام طور ښه نتيجه نه راوځي.

## د جذباتي انداز اختيارولو نقصانونه

يو ماهِرِ نَفسيات دے، هغه ډير كلونه مسلسل د جَذباتو مُتَعَلِّق تحقيق اوكړو، كله چې ئې تحقيق مكمل شو نو يو كتاب ئې اوليكلو، د هغه ماهِرِ نفسيات پوره تحقيقاتو نتيجه او خُلاصه چې كومه ده، هغه د دې كتاب يوه ښكلې او ښائسته جمله ده، هغه وائي: ما تر اوسه پورې چې څومره تحقيق كړے دے، د هغې مطابق زه په دې نيتجه رسيدلے يم چې **انسان كله هم د جذباتو په بنياد فيصله كړې ده نو هغه پښيمانه شوے دے.**

دا حقيقت دے، انسان چې كله هم د جذباتو په بنياد فيصله كوي نو هغه پښيمانه كيږي. په دې دُنيا كښې چې انسان د ټولو نه اوَّل كومه ګناه كړې وه، هغه هم د جذباتو په بنياد شوې وه.

## د دُنيا ورومبے قتل كله او څنګه شوے وو....؟

حضرت هابيل رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه او قابيل دواړه ورونړه وو، د قابيل د حضرت هابيل رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سره څه اختلاف وو، حضرت آدم عَلَيۡهِالسَّلَام هغه اختلاف ختمولو د پاره دواړو ته حكم اوكړو چې د الله پاك په بارګاه كښې قرباني پيش كړئ. په هغه زمانه كښې به چې

کومه قُرباني قبليدله، [د هغې واضحه نښه دا وه چې] د اسمان نه به يو اور راغے او هغه به ئې اوسيزله. د حضرت هابيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه قرباني قبوله شوه او د قابيل قُرباني رد کړے شوه. نو قابيل له پکار وو چې د عقل نه ئې کار اخستے وے، سوچ او فِکر ئې کړے وے چې آخر زما قُرباني ولے قبوله نه شوه، ضرور به زما څه غلطي وي خو هغه جذباتي فيصله اوکړه او حضرت هابيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته ئې دهمکي ورکړه:

لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ (پاره:7،سورة المائدة:27) | مفهوم ترجمه کنزُالايمان: قسم دے زه به تا قتل کړم.

دا د قابيل جذباتي فيصله وه! په دې باندې حضرت هابيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ډير صبر اوکړو او په اطمينان سره ئې اووئيل:

اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۷﴾ (پاره:7،سورة المائدة:27) | مفهوم ترجمه کنزُالايمان: الله صرف د ويره لرونکو نه قبلوي.

قابيل د عقل نه کار وانغستو، په جذباتو کښې بےقابو شو او په غُصّه، حَسَد او بُغض کښې اخته شو او هغه بدبخته حضرت هابيل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه شهيد کړو. الله پاك فرمائي:

فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۳۰﴾ (پاره:7،سورة المائدة:30) | مفهوم ترجمه کنزُالايمان: نو د هغه نفس هغه د خپل ورور په قتل راضي کړو نو هغه، هغه قتل کړو بيا د نقصان موندونکو نه شو.

په حديثِ پاك کښې دي: د قيامته پورې به چې څومره قاتِلان وي، هغه ټول به هُم ګنهګار وي او د قابيل په اعمال نامه کښې به هم د هغوئې ګناه ليکلے کيږي ځکه چې قتل هُم هغه شروع کړے وو.

## د جذباتي انداز نتیجه: پښیمانتیا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دے د جذباتي فیصلو نُقصان...! قابیل په جذباتو کښې راغے، ناحقه قتل ئې اوکړو، نتیجه ئې څه را اُووته؟ پښیمانتیا...! ❁ زمونږ په مُعاشره کښې خلق په معمولي خبرو جګړے کوي، نتیجه ئې څه را اُوځي؟ پښیمانتیا...! ❁ که په سړك ټریفك زیات شي، ګنړه جوړه شي نو خلق بے قابو شي ❁ که په لاره روان وي او چا سره ډغره اُوخوري نو جګړه شروع کړي ❁ ډیر ځلمي د جذباتو په وجه د سَیټ یا منیجر سره لانجه جوړه کړي او په وړو وړو خبرو ښه ښکلي نوکري پریږدي، بیا په بله نوکرئ پسې در په در پښیمانه ګرځي ❁ بعضې ناپوهه ځلمي د مور و پلار نه په څه خبره خفه شي، جذباتي فیصله اوکړي او کور پریږدي، نتیجه ئې څه راووځي؟ پښیمانتیا ❁ عام طور داسې ځلمي د غلطو خلقو سره دوستي کوي او چې کله ورته د خپلې غلطئ احساس اوشي نو بیا وخت تیر وي، بیا پښیمانه وي خو څه کولے نه شي ❁ بعضې وخت خلق په معمولي خبرو په جذباتو کښې راشي او قتل اوکړي، مقتول خو مړ شي او دا پخپله په جیل کښې بندیوان شي، انجام ئې څه وي؟ پښیمانتیا.

## په مُعاشره کښې د جذباتي انداز د زیاتوالي شرح

آه! زمونږ په مُعاشره کښې جذباتي فیصلے ورځ په ورځ زیاتیږي، ګنړ شمیر خلق د علمِ دِین نه لرې دي، د شریعت احکاماتو معلومات لرل د نشت برابر دي، په قرآنِ کریم باندې ځان پوهه کول خو لا لرې خبره ده، په کتلو ئې هُم نه شي لوستلے، ښکاره خبره ده چې د شریعت د احکاماتو معلومات نه وي نو د هغې مطابق فیصلے به څنګه

اوکړے شي؟ د خلقو يو کنړ شمير دے چې صرف جذباتي فيصلے کوي او ځان ته نقصان ورکوي ❀ د مختلفو رپورټونو مطابق په سن 2021ء کښې په سختو جرمونو کښې 25 فيصده اِضافه شوي ده، د دې کال وړومبو شپږو مياشتو کښې 1232 کسان قتل شوي دي ❀ تيرو دوو کلونو کښې په پاکستان کښې د خود کُشۍ شرح د درې فيصدو نه اَتَه فيصده ته رسيدلې ده ❀ د يو رپورټ مطابق په عالَمي سطح باندې په هرو 40 سيکنډو کښې يو کس خود کُشي کوي ❀ دغه شان د طلاق په کيسونو کښې هُم ورځ په ورځ اضافه کيږي، په سن 2019 او 2021 کښې صرف د پاکستان صرف يو ښار کراچۍ کښې تقريباً پينځلس زره د طلاق کيسونه رپورټ شوي دي ❀ دغه شان په ماشومانو هلکانو او ماشومو جينکو باندې د جنسي تَشدد کولو کيسونه هم ورځ په ورځ زياتيږي.

زمونږ د مُعاشرے دا بد حال او سخت جرائم څه دي؟ که د دې په غور سره جائزه واخستے شي نو اصل بنياد به ئې جذباتي فيصلے را اوځي. ❀ د ناحقه قتل غټه وجه غُصَّه ده❀ طلاق هم عام طور په غُصَّه کښې ورکولے کيږي، خلق نه سوچ کوي، نه ځان پوهه کوي، بس په غُصَّه کښې راشي او طلاق ورکړي، او په يو ساعت کښې کور وران شي، بچي خواران د مور و پلار دواړو نه يا د يو نه محرومه شي او مستقبل ئې برباد شي ❀ خودکُشي هم يوه جذباتي فيصله ده، بعضې خلقو باندې چې غريبي ډيره شي، څه تکليف پرې راشي، درد، غم، پريشانۍ پرې راشي يا ئې په کور کښې د چا سره جګړه اوشي نو په جذباتو کښې راشي او خودکُشي اوکړي، بځپله هم په حرام مرګ مړ شي او خپل خپلوان هم په غټ غم کښې اخته کړي ❀ زمونږ خلق د چا

غلطي برداشت کولو ته تيار نه دي ✿ ماشوم غلطي اوکړي، مور و پلار ئې غُصَّه شي او وهل ټکول شروع کړي، دې سره په ماشومانو باندې بد اَثر پريوځي، دې سره ماشوم ضدي شي او بيا ئې ښه تربيت نه کيږي، د دې وجه جذباتي انداز اختيارول دي ✿ په خبره خبره باندې غُصَّه کيدل✿ که څوك ورته بد اووائي نو په بدل کښې کنزلې کول، دا ټول جذباتي کارونه دي ✿ زمونږ دا جذباتي فيصلے زمونږ کردار خرابوي ✿ جذباتي فيصلے د معاشي نُقصان سبب جوړيږي ✿ د جذباتي فيصلو په وجه کورونه ورانيږي ✿ جنګ جګړې زياتيږي او د معاشرے امن و سکون بربادیږي ✿دغه شان عشقِ مجازي، دا خو د جذباتو يو اوچت غر دے چې د هغې نه لاندې شُعُور او د سوچ او فکر کولو صلاحيت داسې خخ شي چې اَلاَمَان وَالْحَفِيْظ!

بےحيائي عامه ده، جهالت عام دے، بعضې هلکان جينکئ په خپل مينځ کښې په ګنده، د ګناهونو ډك عشق کښې اخته شي، ګناهونه ډير عام شوي دي، بعضې وخت د کور نه اوتښتي او په کورټ کښې نکاح اوکړی، بيا د دواړو خاندانونو عِزَّت خاورې شي. د دوو خاندانونو جنګ شروع شي، بعضې وخت د هلك او جينئ عشقِ مجازي والا دا جذباتي فيصله د دوو کورونو د خانداني دُښمنئ سبب جوړه شي او د دې په وجه مودو مودو پورې د جنګ او قتل سلسلے رواني وي. دغسې ډير ځله په دريابونو کښې لاوارثه مړي ميلاويږي، چا خپله خور د غيرت په نوم قتل کړي وي، دغسې په عشقِ مجازي کښې چې څوك اخته شي او ناکامه شي نو بعضې وخت هغه ځپله درياب ته ټوپ کړي او ځان مړ کړي، معلومه شوه چې عشقِ مجازي د جذباتي انداز

اختيارولو هغه خطرناك انداز دے چې د مرګ سبب ګرځي، ډېر داسې نادانه عاشقان دي چې د عشقِ مجازي په چکر کښې په کفر کښې اخته شوي دي.

## ګنده جذباتو کفر ته اورسولو

علامه اِبنِ جَوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نقل کوي: د بنـي اسرائيلو يو کس وو، چې د سمندر په غاړه به ئې يواځې ځائے کښې د الله پاك عبادت کولو، د هغه معمول وو چې د ورځې به ئې روژه نيوله او ټوله شپه به ئې عبادت کولو، هغه درې سوه کاله پورې په تنهائې کښې عبادت اوکړو خو افسوس! بيا هغه د عشقِ مجازي په آفت کښې اخته شو او د جذباتو د لاسه مجبوره شو، دِينِ حق ئې پرېښودو او د کفر کندې ته غورزار شو.[1]

اے عاشِقانِ رسول! د عبرت مقام دے...! غور اوکړئ! عشقِ مجازي، چې عام طور د نفساني شَهوت سره تعلق لري، په دې آفت کښې اخته شوي يو عبادت ګزار خپل درې سوه کاله عبادت برباد کړو او کافِر شو. د دې نه اندازه اولګوئ! چې خپل جذبات په قابو کښې ساتل، د ژوند په هر ساعت کښې د سوچ او فِکر نه کار اخستل او د قرآن و سُنَّت مطابق شُعُوري فيصلے کول څومره ضروري دي.

## په جذباتو کښې هيڅ کله هُم فيصلے مه کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دلته يوه خبره ډېر د غور او تَوَجُّه قابله ده، هغه دا چې په مونږ کښې موجوده جذبه د خپل ذات په لحاظ سره هيڅ کله نقصان دِه نه ده. آو! بعضې هغه جذبات کوم چې په قلاره قلاره د باطني مرضونو صورت اختيارووي،

[1] ...ذَمُّ الهَوى، صفحه:347۔

هغه ضرور نقصان دِه دي لكه تَكَبُّر، فخر و غرور، خپل ځان ښه ګڼړل، دا هغه باطني مرضونه دي كوم چې په شروع كښې د يوے جذبے په طور په مونږ كښې ظاهريږي، خو كه مونږه دا جذبات په خپل قابو كښې اوساتو مثلاً يو كس ته د تَكَبُّر خيال راغلے او هغه خيال ئې قائم كړو او بار بار دا خيال راولي نو بيا دا باطني مرض جوړ شي. په دې باندې په ساده مثال كښې داسې ځان پوهه كړئ چې هائي بلډ پريشر يو مرض دے، كه د يو كس بلډ پريشر عام طور خو نه زياتيږي خو د خوراك څښناك د كمي زياتي په وجه ئې بعضې وخت بلډ پريشر زياتيږي نو هغه ته به د هائي بلډ پريشر مريض نه وئيل كيږي، كه هغه په خوراك څښناك كښې مسلسل بے احتياطي كوي او بيا د هغه بلډ پريشر په عام معمول كښې هُم زيات وي نو اوس به هغه ته د هائي بلډ پريشر مريض وئيلے كيږي. دغه حال د جذباتو هم دے، هره يوه جذبه چې كله اوَّل په مونږ كښې راشي نو عام طور هغه د 12 منټو پورې وي، كه څوك دغه جذبه په خپلو دماغو كښې پخه كړي، بار بار هغه جذباتي خيال راولي نو بيا كه هغه جذبه منفي [يعني غلطه] وه نو د باطني مرض صورت هم اختيارولے شي.

بهرحال تر څو پورې چې جذبات د باطني مرضونو صورت اختيار نه كړي، تر هغه وخته پورې ذاتي طور جذبات نُقصان دِه نه وي بلكه د يو حده پورې دا هم وئيلے شي دي چې جذبات د انسان خاصّه ده، په روبوټ او انسان كښې بنيادي فرق د جذباتو دے، په روبوټ كښې جذبات نه وي، هغه يو مشين دے، نه هغه له غُصّه ورځي، نه د چا نه نفرت كوي، نه محبت كوي. دا د الله پاك د پيدائش كمال دے چې الله پاك انسان د خاورې نه جوړ كړے دے او ډير خاصيتونه او جذبات ئې هُم پكښې ايښودي دي.

لِهٰذا ذاتي طور جذبات فائده مند دي. خو! نُقصان په هغه وخت كښې كيږي چې كله مونږه د جذباتو تحت فيصله كوو، په اصل كښې جذباتي انداز اختيارول هُم دي ته وئيلے كيږي يعني د جذباتو زيرِ اَثر فيصله كول. لِهٰذا د خپل ژوند دا اُصُول جوړ كړئ چې كله په ما باندې جذبات غالِب شي نو هغه وخت به زه يوه فيصله هُم نه كووم.

## په جذباتو قابو ساتل هم يوه عقلمندي ده

د انګريزئ يوه اصطلاح وئيلے كيږي: I.Q (آئی- كيو)- شايد په مونږ كښې به اكثرو خلقو دا لفظ اوريدلے وي، د دې مطلب دِماغي ذهانَت دے. چې كله انټرويو وغيره وركول وي نو د مختلفو سوالونو په ذريعه I.Q (يعني د بنده ذَهانت) چيك كوي. دغه شان يوه بله اصطلاح هم جوړه شوې ده، هغې ته E.Q (اِی.كيو) يعني جذباتي ذَهانت وائي. ماهِرينِ نفسيات وائي چې څوك په خپلو جذباتو باندې كنټرول نه شي كولے مثلاً څوك چې په خبره خبره غُصَّه كيږي، كه غم پرې راشي نو ځان په قابو كښې نه شي ساتلے، كه خوشحالي پرې راشي نو ليونے شي، داسې كس چې هر څومره ذَهين وي، هغه د خپلو جذباتو په وجه د ډيرو غټو غټو نقصانونو سبب جوړيدے شي. په دې وجه اوس په دُنيا كښې په مختلفو ادارو او مختلفو دفترو كښې ملازمت وركولو د پاره د I.Q سره سره د E.Q ټيسټ هُم اخلي، يعني چې دا انسان څومره ذَهين دے، د دې سره سره دا هم ګوري چې دا د خپلو جذباتو دُرُست استعمال كولو كښې څومره ماهِر دے.

## د بُزُرګانِ دينو په خپلو جذباتو باندې كنټرول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د دې نه معلوميږي چې د ژوند په سفر كښې د كاميابئ د پاره په خپلو جذباتو قابو ساتل ډير ضروري دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه بُزُرګانِ

دينو رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم كامياب ترين ژوند تير كړے دے، د هغوئي په كاميابئ كښې هم غټ كردار د E.Q (يعنى جذباتى ذهانت) دے، زمونږه بُزُرګانِ دينو به په خپلو جذباتو قابو ساتله. كه چا به د هغوئي د جذباتي كولو كوشش هم كولو نو هم به نه جذباتي كيدل، د اَمِيْرُالْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَربِن عبدُ العزيز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دورِ خلافت واقعه ده، يو ځل يو كس هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه سره سخت كلامي اوكړه نو هغوئى سر ښكته كړو او اوئي فرمائيل: آيا ته دا غواړې چې ما ته غُصَّه راشي او شيطان ما د بادشاهئ په غرور كښې اخته كړي او زه په تا ظُلم اوكړم او د قيامت په ورځ ته زما نه د هغې بدله واخلې....! دا هيڅ كله نه شي كيدے. دا ئې اوفرمائيل او خاموشه شو.

اَللّٰهُ اَكۡبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوكړئ! څوک چې كمزورے وي، څه عُهده او طاقت هُم نه لري نو هغه هم په خپلو جذباتو قابو نه شي ساتلے، دلته خو كه څوك په لاسو د ګُزار كولو طاقت نه لري نو په خُله كنزلې اوكړي، څوك چې په خُله هُم څه نه شي وئيلے هغه په زړه كښې خُوټكيږي خو قربان شم د حضرت عُمَر بِن عبدُ العزيز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه E.Q (يعنى په جذباتو باندې قابو ساتل) څومره اعلٰى وو، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه خليفه وو، اَمِيْرُالْمُؤْمِنِيْن وو، هغوئي سره طاقت وو، قُوَّت وو، په دې حال كښې يو كس راشي او هغوئي ته رد بد اُووائي، د هغوئي د جذباتو راپارولو كوشش اوكړي خو هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خپل جذبات په قابو كښې اوساتل او خاموشي ئې اختيار كړه. يقيناً دا ډير غټ كمال دے او دا زمونږ د بُزُرګانِ دينو د ژوند هغه راز دے چې د دې په وجه به هغوئي هر ځائے كښې باكماله وو، مونږ له هم خپل جذبات په قابو كښې ساتل

پکار دي، جذبات هم د الله پاك غټ نِعمَت دے، په مونږه لازم دي چې مونږه د دې دُرُست استِعمال اوکړو.

## د جذباتي کيدلو درې علاجه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ”جذباتي انداز اختيارول“ اکثر د غُصّے په صورت کښې پيښيږي. اِمام غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د غُصَّے علاج او په دې مُعامَله کښې محنت و مشقت برداشت کول (په ډيرو صورتونو کښې) فرض دي، ځکه چې اکثر خلق به د غُصّے په سبب دوزخ ته ځي.[1]

د غُصّے نه علاوه هم د جذباتي کيدلو ډير صورتونه دي. دې نه د بچ کيدلو يو څو طريقے دي:

## (۱) د غُصَّے والا جذباتي انداز علاج

که د غُصّے په صورت کښې مو جذبات را اوچت شي نو په دې طريقو علاج کيدے شي مثلاً غُصَّه درشي: **(1)** اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡم اولولئ **(2)** لَاحَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اولولئ **(3)** چُپ شئ **(4)** اودس اوکړئ **(5)** پوزه کښې اوبه واچوئ **(6)** که ولاړ يئ نو کښينئ **(7)** که ناست يئ نو څملئ **(8)** په چا چې غُصَّه کيږئ، د هغه د مخې نه لرې شئ.[2]

---

1 …کيمياے سعادت، صفحه:473۔
2 …غصے کا علاج، صفحه:31۔

د غُصّے د علاج مُتَعَلِّق تفصيلي معلوماتو د پاره د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ''غُصّے کا علاج'' اولولئ.

## (۲) د ښو نيتونو كولو عادت جوړ كړئ...!

د بُخاري شريف مشهور حديث دے، خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دارومدار په نِيتونو باندې دے.[1]

نِيَّت د زړه د ارادے نوم دے او په دې حديثِ پاك كښې د نِيَّت اهميت بيان شوے دے. كه مونږه په خپل ژوند كښې په دې حديثِ پاك باندې عمل اوكړو نو مونږ به د جذباتي فيصلو نه د ډيره حده پورې بچ اوسو!

نِيَّت په اصل كښې يوه بيداري ده، كيدے شي چې زمونږ د ډيرو خلقو په ژوند كښې داسې ساعتونه راغلي وي چې په وړوكوالي كښې به كله مونږه د شپے لوبے كولو كولو يا سبق لوستلو لوستلو كښې اوده شو نو مور به د لاسه اونيولو، په كټ كښې به ئې كښينولو او يو ګلاس شوده به ئې راكړل او په ډيره مينه به ئې راته اووئيل: بچيه! اوده شوے ئې شوده [پيئ] دِ نه دي څښلي، دا شوده اوڅښه. مونږ به د مور آواز اوريدلو، پوهيدو به هُم پرې او د شودو ګلاس به مو په لاس كښې اونيولو او وبه مو څښلو، خو سحر به چې كله راپاڅيدو نو يو خوب شان به راته ښكاريدو چې مونږه د شپے شوده څښلي وو كه نه. د ماهرينِ نفسياتو وينا ده چې په دې دُنيا كښې انسان ډير كارونه د

---

[1] ...بخاری، كتاب:بدءالوحی، باب:كيف كان بدءالوحی، صفحه:65، حديث:1۔

پرکالئ په حالت کښې کوي، خاص طور چې کله زمونږ په شُعُور باندې جذبات غالِب شي، ګنې هغه وخت مونږه اوده يُو، څنګه به چې راته په وړوکوالي کښې مور د شودو ګلاس راکړو نو د خوب په حالت کښې به هم زمونږ حَواسو دومره کار کولو چې ګلاس به مو د لاسه نه غورزيدلو، مونږ به د شودو ګلاس سيدها خُلې له وړلو، کله کله به مو [په مُسکا مُسکا] د مور شکريه هم ادا کړه، دغه شان چې کله په مونږه باندې جذبات غالب شي، هُغه وخت زمونږه شُعُور د جذباتو لاندې راشي، مونږه ټيك سوچ نه شو کولے، د معامَلے په کمزورئ نه شو پوهيدے، ناڅاپه زر غُصَّه کيږو، مَثَلًا څنګه چې څوك کنزلې اوکړي نو د غُصّے نه زمونږ رنګ سور شي، چې کله څه د خوشحالئ زيرے واورو نو د ډيرې خوشحالئ نه مو مخ اوځليږي، ګويا چې مونږه جذباتو نيولي يو او ګرځئ مو. دغه وخت د شُعُور بيدارولو ضرورت دے، کوم شُعُور چې د جذباتو لاندې شوے دے، هغه د جذباتو د لاندې نه راويستل دي.

اوس په نِيَّت ځان پوهه کړئ! نِيَّت څه دے، کله چې مونږه څه کار کول شروع کوو نو زړه مو هغه کار طرف ته مُتَوَجِّه کيږي، د زړه هغه کار طرف ته د مُتَوَجِّه کيدو نوم نِيَّت دے. د يو کار په باره کښې د نِيَّت کولو د پاره ضروري دي چې مونږه د هغه کار ښه والي او بد والي ته اُوګورو، يو څو سيکنده سوچ اوکړو چې د دې کار کولو سره ما ته دُنياوي او ديني څومره فائده ده، بيا هغه فائده په زړه کښې حاضريدو سره هغه کار اوکړو. د نِيَّت کولو دغه عمل چې کله يو مسلمان کوي نو د هغه اِيمان دا تقاضا کوي چې هغه د آخرت فائدے ته ترجيح ورکوي او د زړه نه هغه طرف مُتَوَجِّه کيږي، دې ته ښه نِيَّت وائي. که مونږه ښه ښه نِيَّتونه کول خپل معمول جوړ کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ

**الْكَرِيْم!** چې کله په مونږه جذبات غالب شي نو د دې په برکت به د ښه نِيَّت کولو دا عادت پکار راځي او مونږه به د جذباتي فيصلو نه محفوظه اوسو. **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!**

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د نن صبا دې د فتنو نه ډك دور کښې د نيك او باکرداره جوړيدلو کومه نُسخه چې شيخِ طريقت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړې ده، يعني "72 نيك اعمال" په دې رساله کښې وړومبے نيك عمل هُم دا دے چې: آيا نن تاسو څه نه څه نيك او جائز کارونو کولو نه مخکښې کم از کم يو ښه نِيَّت کړے وو؟ الله پاك دِ مونږ ټولو ته ښو ښو نِيَّتونو والا دې نيك عمل او په ټولو 72 نيکو اعمالو باندې د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (۳) خپل خيالات بدل کړئ....!

حُضُورِ غوثِ پاك، شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په فُتُوحُ الغَيب کښې فرمائي: په هر مسلمان باندې په هر حال کښې درې خبرې لازمې دي: **(1)** د شريعت په احکاماتو دِ عمل کوي **(2)** د کومو خبرو نه چې شريعت منع کړې ده، د هغې نه به ځان بچ ساتي **(3)** په تقدير دِ هميشه راضي اوسي.

د دې فرمائيلو نه پس حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوفرمائيل: **فَلْيُحَدِّثْ بِهَا نَفْسَهٗ** د دې درې خبرو مُتَعَلِّق دِ مسلسل ځان سره خبرې کوي.[1] **يعني هر مسلمان له پکار دي چې دا درې خبرې د خپلو خيالاتو حِصَّه جوړې کړي.**

---

[1] ...فتوح الغيب، صفحه:9،ملتقطاً۔

د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دا جمله ډېره د كمال ده. كه مونږه په خپل ژوند كښې په دې باندې عمل اوكړو نو اِنۡ شَآءَاللهُ الۡكَرِيۡم! د جذباتي فيصلو نه به ډېره حده پورې بچ اوسو.

په اصل كښې زمونږ جذبات زمونږ د خيالاتو سورے وي، يعنې زمونږ په ذِهن كښې چې څنګه خيالونه راځي، هغه شان هغه خيالات زمونږ جذبات راپاروي. فرض كړئ! د دُنيا په كوم ګوټ كښې ناست يَو كس مونږ ته كنزلې كوي خو د هغه آواز مونږ ته نه رارسي آيا مونږ ته به غُصَّه راځي؟ نه به راځي. غُصَّه به كله راځي؟ چې كله مونږه د هغه خبرې واورو چې فلانكي ماته كنزلې كړي دي نو په دماغو كښې به مو خيالات پيدا كيږي. او د هغې خيالاتو په نتيجه كښې به جذبات راپاريږي. حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نصيحت كوي، فرمائي: هر مسلمان له پكار دي چې خپل خيالونه د دريو خبرو تابع كړي: (1) زه به د شريعت په حكم عمل كووم (2) د كومو خبرو نه چې شريعت منع كړے يم، د هغې نه به ځان بچ ساتم (3) په تقدير به هميشه راضي اوسم.

چې كله زمونږه خيالات هر وخت د دې دريو خبرو تابع شي نو د دې په بركت به نوي راتلونكي جذباتي خيالونه پخپله مغلوبه كيږي او مونږ به د جذباتي فيصلو نه محفوظه كيږو. معلومه شوه چې د جذباتي انداز اختيارولو نه او جذباتي فيصلو نه د بچ كيدلو آسان ترينه ذريعه دا ده چې مونږه خپل سوچ بدل كړو. الله پاك دِ د عمل كولو توفيق راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار ”د سحر لمَانځه د پاره رابيدارول“

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي کښې شامل اوسئ او په 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې ديني کارونو کښې يو ديني کار **”د سحر لمَانځه د پاره رابيدارول“** هم دي. ياد لرئ! د سحر لمَانځه د پاره خلق رابيدارول د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. دعوتِ اسلامي سره وابسته ډير عاشقانِ رسول په دې مبارك سُنَّت باندې عمل کوي او سعادت حاصلوي. تاسو هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې مبارکو سُنَّتو باندې عمل اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! د دين و دُنيا بيشميره نيکئ به در نصيب شي.

## د کَلِمه طَيِّبَه ذِکر ئې شروع کړو

د ديپال پور (ضلع اوکاړه، پنجاب) د يو اسلامي ورو بيان دے: زما تره محمد رفيق عَطّاري د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته وو او د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه مريد وو، د سحر لمَانځه د پاره خلق رابيدارول د هغه معمول وو، سحر وختې به پاځيدلو او د لرې لرې پورې به تللو او مسلمانان به ئې د سحر لمَانځه د پاره رابيدارول، د دې عادت په وجه په ټول ديپال پور کښې مشهور وو، يو ځل د فيصل آباد نه بيرته کور ته راروان وو، چې د ماسخُتن د لمَانځه وخت شو نو ګاډے ئې اودرولو، لمُونځ ئې ادا کړو او بيا په سفر روان شو، ګاډے په خپل رفتار سره روان وو، ناڅاپه زما تره محمد رفيق عطاري په اوچت آواز ګلِمه طَيِّبَه اولوستله او اوئې فرمائيل:

تهول کَلِمه طَيِّبَه اولولئ، تهولو کَلِمه طَيِّبَه اولوستله، لږ ساعت پس ناڅاپه ګاډي يوه تيزه جټکه اوخوړله او ښکته جوړ ځائے ته غوزار شو، ټول خلق معمولي زخمي شو خو زما تره محمد رفيق عطاري سخت زخمي شو، د سخت تکليف باوُجود د هغه په ژبه کَلِمه طَيِّبَه جاري وه او قسمت ئې اوګورئ چې کَلِمه طَيِّبَه لوستلو لوستلو کښې د دُنيا نه رُخصَت شو.[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُورا! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.[(2)]

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## كور ته د تلو راتلو سُنَّتونه او آداب

د آخري نبي، محمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عاليشان دے: "څوک چې خپل كور ته داخل شي او سلام اوكړي نو الله پاك د هغه ضامِن دے (يعني كه هغه ژوندے پاتې شي نو رزق به ورکولے کيږي او كه وفات شي نو الله پاك به ئې جنَّت ته داخل كړي).[3]

1...حيرت انگيز حادثه، صفحه:25۔

2...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحه:201، حديث:220۔

3...صحيح ابن حِبَّان، كتاب: البر والاحسان، صفحه:250، حديث:499۔

✿ چې كله د كور نه بهَر ته اوځئ نو دا دُعا اولولئ: ”بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ“ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم د دې دُعا په بركت به په هدايت اوسئ، د آفتونو نه به محفوظه اوسئ او د الله پاك مدد به درسره شي ✿ كور ته د داخليدو دُعا: ”اَللّٰهُمَّ اِنِّیْۤ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا“ بيا د كور خلقو ته سلام اوكړئ بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باركاه كښې سلام عرض كړئ د دې نه پس سُورۀ اِخلاص اولولئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په رزق كښې به مو بركت كيږي او د كورنو جګړو نه به خلاصے در نصيب شي ✿ خپل كور ته تلو راتلو كښې خپلو محارِمو او مُحَرَّماتو (مَثَلًا مور و پلار، خويندو وروڼړو، خپلې ښځې او بچو وغيره) ته سلام اوكړئ ✿ د بِسْمِ الله نه بغير چې څوك كور ته داخل شي نو شيطان ورسره هم داخليږي ✿ كه داسې كور ته داخل شئ چې څوك پكښې نه وي نو داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِاللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ فرښتے به د دې سلام جواب وركوي يا داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَاالنَّبِيُّ [يعنې اے نبي په تاسو دِ سلامتي وي] ځكه چې د حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رُوح مبارك د مسلمانانو په كورونو كښې تشريف فرما وي ✿ چې كله د چا كور ته داخليدل غواړئ نو داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ آيا زه دننه درتلے شم؟ ✿ كه د داخليدو اجازت ميلاؤ نه شي نو په خوشحالئ بيرته لاړ شئ د څه مجبورئ په وجه به د كور خلقو اجازت نه وي دركړے ✿ چې كله د كور دروازه څوك اوډبوي نو سُنَّت دا دي چې د كور كسان تپوس اوكړي: څوك ئے؟ بهَر والا له پكار دي چې خپل نوم اوښائي، د نوم ښودلو په

ځائے په دې موقع باندې **زه يم! دروازه بيرته کړه!** وغيره وئيل سُنَّت نه دي ❁ د جواب ورکولو نه پس د دروازے نه يو طرف ته اودرېږئ چې دروازه بيرته کيدو کښې نظر په کور کښې دننه پرينوځي ❁ د چا کور ته دننه کتل منع دي. د بعضو خلقو د کورونو مخې ته لاندې طرف ته د نورو خلقو کورونه وي، لِهٰذا د کور د دروازے نه بهر کتلو وخت کښې د دې خبرې خيال ساتئ چې د خلقو کورونو ته اُونه ګورئ ❁ که د چا کور ته لاړ شئ نو د هغې په انتظاماتو اعتراض مه کوئ په دې د کوربه زړه خفه کيدے شي. ❁ بيرته راتللو وخت کښې د کوربه په حق کښې دُعا هم اوکړئ او شُکريه ئې هم ادا کړئ او سلام هم اوکړئ که د سُنَّتو ډکه کومه رساله درسره وي نو هغه ته ئې په تُحفه کښې پيش کړئ.

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ عِلّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د 100 صفحو کتاب 550 سُنَّتيں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سنَّتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډک سفر هم دے.

**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبَر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبَر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

1 ...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1...القول البديع،الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2 ...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3 ...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵